
لیکوال او انځورګر: ویلیم دي وینک

# عیسی مسیح





هغه کس چې نړۍ ته بدلون ورکوي

## .... څه شی دی



**ابدي ژوند**: د عیسی سره ژوند لکه څنګه چې خدای اراده کړې ده. دا ژوند پر مرګ غالبه دی او هېڅ پای نه لري (۲۳، ۳۰-۲۹ او ۵۹ مخونه).

**ایمان**: یعنې تاسو په څښتن خدای باندې باور لرئ چې هغه څه ترسره کوي چې هغه ژمنه کړې ده (۵۸ مخ).



**بخښنه**: څښتن خدای خلک بخښي، که څه هم هیڅوک یې مستحق نه دي. که تاسو په رېښتیا له خپلو ګناهونو څخه پښېمانه یئ او غواړئ چې بدلون ومومئ، نو خدای به تاسو وبخښي. بخښنه ممکنه ده ځکه چې عیسی هغه سزا په خپله غاړه واخیسته چې مونږ یې مستحق یو (۵۸ مخ).




**برکت**: ټول هغه ښه شیان چې خدای غواړي هغه خلکو ته ورکړي چې د هغه د غوښتنو مطابق عمل کوي.

**بیرته ستنیدل**: کله چې عیسی ځمکې ته بېرته راستون شي، نو هرڅه به نوي شي. آسمان او ځمکه به د خدای لخوا نوي شي (۵۷ مخ).




**د ایسټر اختر**: هغه جشن دی چې د عیسی قیامت پکې لمانځل کیږي. یهودیان په ورته ورځو کې د فسحې اختر لمانځي ( ۳۸- ۵۴ مخونه).



**د څښتن غوره ماښام**: د عیسی پیروان د څښتن د غوره ماښام په لمانځلو سره د هغه د مړینې او بیا ژوندي کیدو یاد ژوندی ساتي (۴۱ مخ).

**د خدای پاچاهي**: د خدای پاچاهي هلته شتون لري چېرې چې خلک له هغه څخه اطاعت کوي.



**د خدای زوی**: د عیسی نوم. هغه خدای و چې ځمکې ته د انسان په بڼه او د خدای د زوی په توګه راغی.

**دعا**: کله چې تاسو د خدای سره په خاموشۍ یا په لوړ اواز سره خبرې کوئ او هغه ته غوږ نیسئ (۱۸، ۱۹، ۴۲ مخونه).

**روح القدس**: د خدای روح چې د هغې له لارې هغه غواړي په هغو خلکو کې ژوند وکړي چې د عیسی پیروي کوي (۵۸ مخ).

**سپېڅلی کتاب**: په سپېڅلي کتاب کې تاسو کولای شئ ولولئ چې څښتن خدای څرنګه خلکو ته نظر کوي او څرنګه د هغو سره چلند کوي.

**شاګرد**: د عیسی پیرو (۱۸ مخ).

**شیطان**: د خدای او انسانانو نه لیدونکی دښمن (د ابلیس په نوم هم یادیږي).

**صلیب**: د عذاب ورکولو هغه وسیله چې عیسی په خپله خوښه او رضایت سره د هغه د پاسه مړ شو. دا د عیسی د ټولو پیروانو لپاره یوه نښه ګرځیدلې ده. (۲۵، ۵۰ مخونه).

**عیسی**: د څښتن خدای د زوی نوم، او معنی یې ده، "خدای نجات ورکوي".


**فرښته (ملایکه)**: د خدای نه لیدونکی رسول (۵ مخ).

**قیامت**: عیسی له مړو څخه راپورته شو. یوه ورځ به ټول مړي له قبرونو څخه راپورته شي. بیا به څښتن خدای د هر انسان قضاوت کوي (۵۷-۵۳ مخونه).

**ګناه**: د هغو کارونو کول چې د خدای د ارادې خلاف وي او هغه هدف ته د رسېدو مخه ونیسي چې خدای زمونږ لپاره ټاکلی دی (۴ مخ).

**مسیحا**: "مسح شوی پاچا". مسیحا یوه عبرانۍ کلمه ده چې په یونانۍ ژبه کې د «مسیح» په توګه ژباړل شوې ده (۵۲، ۵۵ مخونه).

## عیسی مسیح څوک دی؟



عیسی شاوخوا ۲۰۰۰ کاله وړاندې په اسراییلو کې ژوند کاوه. مونږ هغه ته "مسیحا" یا "عیسی مسیح" وایو. یعنی هغه پاچا دی. په هرصورت، هغه یوازې یو پاچا نه دی. عیسی ته د "خدای زوی" او "د انسان زوی" هم ویل کیږي. دا پدې معنی ده چې هغه خدای او انسان دواړو پورې اړه لري. د عیسی د ژوند تاریخ په انجیل کې بیان شوی دی. دا د هرې زمانې ترټولو لویه کیسه ده.

## د عیسی زمانه

زمونږ د زمانې تاریخ د عیسی له زیږون څخه پیل کیږي. په هغه وخت کې خلک په پیاده یا په خرو، اوښانو یا اسونو باندې سفرونه کول. د اروپا، منځني ختیځ او شمالي افریقا لویه برخه د روم امپراتورۍ تر ولکې لاندې وه. ډیری خلک لیک او لوست نه شو کولای، مګر په اسراییلو کې یهودان په لوستلو او لیکلو پوهیدل. دوی ته "اهل کتاب" ویل کیده.

خدای په سپیڅلي کتاب او صحیفو کې خبرې کوي. هغه د ټولو موجوداتو خالق دی او د ټولو خلکو سره دوستي غواړي. عیسی دا په واضح توګه څرګنده کړه!






# اسراییل د عیسی په زمانه کې

**پلازمېنه:** اورشلیم

**ولایتونه:** جلیل، سامره، یهودیه.

**مساحت:** تقریباً ۲۸۰۰۰ کیلومتره مربع (۱۰۸۱۰ مایل مربع).


**آب و هوا:** نیمه استوایی.


**سیاست:** د ۶۳ م م (میلاد نه مخکې) راهیسې اسراییل د رومیانو تر ولکې لاندې و.

**حکومت:** د یهودیې والي پانتیاس پیلاتوس په اسراییلو باندې حکومت کاوه. هغه د روم امپراتور تیبریوس تر فرمان لاندې و.

**دین:** یهودیت. یهودیان په اورشلیم کې یوه عبادتخانه لري. دلته کاهنان شتون لري چې د دین لپاره هر ډول خدمتونه کوي او ښوونکي شتون لري (لکه فریسیان) چې د صحیفو له مخې خلکو ته لارښوونې کوي.

**ژبې:** عبراني (د یهودیانو ژبه)، یوناني (نړیواله ژبه)، لاتیني (د رومیانو ژبه).



ولې دا دومره خلک د سيند پر غاړه راټول شوي دي؟
ځانونه چمتو کړئ!
ځکه چې اسماني
پاچاهي نژدې ده!


یو نوی ژوند پیل کړئ!
د خدای د عدالت تبر د ونو بېخونو ته نیولی شوی دی.
هره ونه چې ښه مېوه نه نیسي هغه به ووهل شي او په اور کې به واچول شي.
زمونږ هر یو به دا ډول غوښ کړای شي ځکه چې څوک کولای شي ښه ژوند ولري؟
هیڅوک نشي کولای د خدای له قضاوت څخه تېښته وکړي. مګر زما وروسته، یو څوک راځي چې کولای شي تاسو له دننه څخه بدل کړي. هغه به تاسو وژغوري.
نو اقرار وکړئ چې تاسو ګناهکاران یئ. ایا تاسو په رښتیا غواړئ چې ستاسو ژوند بدل شي؟ نو بیا راشئ او په دې اوبو کې د تعمید غسل واخلئ.
نو په دې توګه، تاسو به دا ثابته کړئ چې غواړئ یو نوی ژوند پیل کړئ.


ټول خلک دغه د سیند دغاړې واعظ د تعمید ورکوونکي یحیی په نامه پېژني.
زه ډېر مهم نه یم. زما دنده دا ده چې د څښتن خدای دپاره لاره چمتو کړم. هغه څوک چې مونږ ته د خدای لاره ښيي. هغه به تاسو ته د روح القدس او اور سره تعمید درکړي او پدې توګه به تاسو په بشپړ ډول بدل کړي.
او ورسته ....
زه باید ستا په لاس د تعمید غسل واخلم!
پرېږده چې اوس همداسې وشي، ترڅو د خدای رضا پوره شي.
ای زمونږ پلاره، ستا پاچاهي دې راشي. ستا اراده دې پوره شي
یوناڅاپه د اسمان څخه یو اواز راغی او ویې ویل ...
هو! ته زما ګران زوی یې چې زه له تانه خوشحاله یم.


کله چې تعمید ورکوونکي یحیی د اسراییلو خلک د مسیح د راتلو
لپاره چمتو کول، رومیانو د نړۍ ترټولو لویه برخه اداره کوله.
اسراییل د لوی روم د امپراتورۍ یوازې یوه کوچنۍ برخه وه ...
کپرناحوم
ناصره
قانا
جلیل
د اردن سیند
اورشلیم
یهودیه
اسراییل
یهودیان مایوسه او غمجن دي او د مسیح د راتلو انتظار کوي چې هغه به راشي. هغه نجات ورکوونکی دی چې د یهودو په پخوانیو کتابونو کې د هغه د راتلو پیشګویي شوې ده او ویل شوي دي چې هغه به د خدای بریا او لويي راولي.
خو د اردن د سیند په څنډه کې تعمید ورکوونکی یحیی د عیسی په لور اشاره کوي.
وګورئ! دا د خدای هغه وری دی چې د نړۍ ګناهونه لېرې کوي!
د تعمید نه وروسته عیسی د خدای د روح له خوا دښتې ته بیول کېږي.
هلته هغه ۴۰ ورځې او شپې روژه نیسي او په دې موده کې د خپل کار لپاره د خدای له ارادې څخه خبرېږي.
هلته عیسی د شیطان سره چې د تیارې نه لیدونکی حاکم دی مخامخ کېږي. د خدای او د انسانیت دغه دښمن په نړۍ کې په کرکه، ناروغۍ او مرګ باندې حکومت کوي ....
د شیطان د ماتې ورکولو لپاره، دا ضروري ده چې عیسی د څښتن خدای پلان عملي کړي. د خدای پلان دا دی چې خلک د مرګ له منګولو څخه خلاص کړي.
هو پلاره! زه غواړم هغه څه وکړم چې ته یې غواړې!


مګر شیطان د عیسی په ذهن کې داسې فکرونه اچوي ترڅو
هغه د خدای د رضا پوره کولو څخه منحرف کړي.
که ته د خدای زوی یې، نو
دې تیږو ته ووایه چې په
ډوډۍ باندې بدلې شي.
سپېڅلی کتاب فرمايي چې انسان
یوازې په ډوډۍ نه، بلکې په هرې
یوې خبرې باندې ژوندی دی چې د
خدای د خولې څخه راوځي.
که چېرې ته د خدای زوی یې، نو خپل ځان
له دې منارې نه ښکته وغورځوه. ځکه
سپېڅلی کتاب فرمايي چې دخدای فرښتې
به تا په خپلو لاسونو کې پورته کړي، ترڅو
ستا پښه په تیږه ونه لګیږي.
د خدای په کلام
کې ویل شوي دي
چې خپل څښتن
خدای مه ازمايئ.
که ته ماته سجده وکړې او زما عبادت
وکړې، زه به تاته د نړۍ ټول قدرت درکړم!
ورک شه شیطانه! ځکه چې د خدای
په کلام کې لیکل شوي دي: خپل
څښتن خدای ته عبادت کوه او
یوازې د هغه خدمت کوه.
بیا شیطان هغه پرېښود او فرښتې د
هغه په خدمت کې حاضرې شوې.
عیسی د روح القدس په قدرت سره جلیل ته
راستون شو چېرې چې هلته هغه لوی شوی و. په
دې سفر کې ورسره یو شمېر کسان هم ملګري
وو. دوی غوښتل پوه شي چې ایا عیسی هغه
وعده شوی مسیح دی چې پیغمبرانو یې په اړه
پېشګويي کړې وه.


د جلیل د قانا په ښار کې د واده یو جشن دی ....
... عیسی هم هلته د خپلې مور او
ځینې ملګرو سره حضور لري.


خو د واده په مینځ کې ....
دا څه مصیبت دی! شراب په ختمېدو دی!
هرڅه چې عیسی درته ووایي هغه وکړئ!
دا منګې له اوبو نه ډک کړئ او هغو څخه لږ راوباسئ او د مېلمستیا د مراسمو مشر ته یې یوسئ چې د هغې مزه وڅکي.
ـ ؟
اوبه؟ دا ناشونی دی! دا ډېر خوندور شراب دي!
ته دا وڅکه! تا ښه شراب لا تراوسه پورې ساتلي دي.
هېڅ باور مې نه راځي! پخوا تردې زه هیڅکله داسې واده ته نه وم تللی. اوبه په شرابو باندې بدلې شوي دي!
دا کار عیسی ناصري کړی دی.
هغه څوک دی؟



کپرناحوم د جلیل بحیرې ته نژدې د کب نیولو یو هوسا کلی دی.
دلته عیسی د خدای د پاچاهۍ په اړه خپل تعلیم پیل کوي.
او دلته هغه خپل لومړني شاګردان ټاکي.
شمعونه، کشتۍ د اوبو یو ژور ځای ته بوځه او خپل جالونه اوبو ته وغورځوئ .
ای باداره! مونږ ټوله شپه خواري وکړه خو هېڅ مو ونه نیول.
خو که چېرې ته وایې، نو په سترګو ...
وګورئ! باور مې نه راځي!



یعقوب! یوحنا! زر
شئ مرسته وکړئ.
دا زمونږ د ټول
عمر ښکار دی.
ای استاذه! زما څخه
لیرې شه. ځکه چې زه
یو ګناهکار یم.
مه وېرېږه،
شمعونه.
له دې وروسته به
تاسو د ماهیانو په
ځای انسانان ونیسئ.
له ما څخه
پیروي وکړئ!


عیسی له خپلو شاګردانو سره د اسراییلو
شمال ته سفر کوي. هغه هرچا ته دا زېرې
ورکوي چې د خدای پاچاهي راتلونکې ده. د
هغه خبرې د ځواک او فضل څخه ډکې
دي. هغه ناروغان روغوي او خلک د
شیطاني طاقتونو څخه ژغوري. زیاتره خلک
هغه تعقیبوي. دوی له نورو لېرې پرتو
ولایتونو او حتی د اسراییلو له پلازمینې
اورشلیم څخه راځي ...











د نورو سره داسې چلند کوئ لکه څنګه چې تاسو يې د ځان دپاره د هغوی څخه غواړئ.
د خپلو دښمنانو سره مینه کوئ او د هغوی دپاره دعا کوئ.
خپل نیک کارونه په پټه ترسره کړئ ترڅو د خلکو پام ځان ته وانه اړوئ.
که چېرې یو سړی کومې ښځې ته په بد نیت وګوري، نو په زړه کې یې د هغې سره زنا کړې ده.
سترګې د بدن څراغ دی. که سترګې دې روغې وي، نو ټول بدن به دې روښانه وي، خو که سترګې دې روغې نه وي، نو ټول بدن به دې په تیاره کې ژوند کوي.
هېڅوک نه شي کولای چې د دوو بادارانو خدمت وکړي، تاسو نه شئ کولای چې هم د خدای بندګي وکړئ او هم د پیسو.
د سبا دپاره اندېښنه مه کوئ، هرڅه نه لومړی د خدای پاچاهي او د هغه عدالت وغواړئ، نو بیا به ټول شیان هم تاسو ته درکړل شي.
زما خبرې واورئ او پرې عمل وکړئ. نو بیا به تاسو د هغه کس په شان واوسئ چې خپل کور په تیږو باندې جوړوي. خو که دا کار ونه کړئ، نو خپل کور به په شګو باندې جوړ کړئ.



یوه ورځ خلکو په کفرناحوم کې د عیسی د کور د ننه او بهر لویه ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه. ....
څومره بیروبار دی! مونږ ته ډېره سخته ده چې هغه ته نژدې ورشو.
مونږ باید د کوټې چت سوری کړو او بستره د هغهٔ مخې ته ورښکته کړو.
هلته پورته څه شوي دي؟ هغوی څه کوي؟
هغوی ته څه مه وایئ. د هغوی ایمان ډېر غښتلی دی.
ستا ګناهونه وبخښل شول.
وامو وریدل چې هغه څه وویل؟ هغه څنګه د دې کفرد ویلو جرأت کوي!
هغه په خدای باندې ملنډې وهي!
بې له خدایه څوک کولای شي چې ګناهونه وبخښي؟
ستاسو په نظر کومه یوه سخته ده؟ د ګناهونو بخښل یا یو شَل ته شفا ورکول؟
د خدای مسیح د ګناهونو د بخښلو واک او اختیار هم لري. زه وایم پاڅېږه، کټ دې واخله او خپل کور ته لاړ شه.


باور مې نه کېږي!
وګورئ! زه کولای شم وګرځم!
عجیبه ده! شل ګرځېدلی شي!
عیسی ډېر ښه کارونه کوي. هغه په حکمت او ځواک سره خبرې کوي. هغه د رحمت او فضل پرته بل څه نه خپروي. خو ټول د هغه څخه خوشحاله نه دي. دیني مشران د شرعي قوانینو ساتنه غواړي. دوی ګوري چې ایا عیسی د شریعت قوانین مني که نه. لکه د سبت ورځ. د اوونۍ په دې ورځ د هر ډول کار کولو لپاره ټینګ بندیز دی.
د دې سړي لاس وچ شوی دی. ایا دا روا ده چې نن ورته شفا ورکړې؟
خپل لاس دې وغزوه.
وګورئ! ما شفا ومونده!
مونږ باید د عیسی له شره ځانونه خلاص کړو!
په اورشلیم کې مشران باید خبر کړو چې هغه خلک بې لارې کوي!



لکه څنګه چې د عیسی او مشرانو ترمینځ تاوتریخوالی زیاتېږي، نو عیسی شاته تګ کوي. هغه له خپلو شاګردانو سره بحیرې په لور ځي. خو...
ای استاذه، مونږ وژغوره. مونږ ډوبیږو.
ولې وېرېږئ؟ ستاسو ایمان چېرې دی؟



ارام
شه!
هغوی خپله کشتۍ د بحيرې بلې غاړې ته تړي. د غره
له لورې څخه يوه عجيبه د چيغو آواز راځي ...
غُر غُر غُر
غُر غُر غُر!


ها! هو!
هغه نژدې راځي!
يو عجيبه سړی هلته اوسيږي.
ای عيسی! ما مه عذابوه!
ای عيسی، ای د خدای تعالی زويه! زما سره څه کار لرې؟
ای روحه، له دغه سړي څخه راووځه!
ستا نوم څه دی؟
زما نوم لښکر دی، ځکه چې زمونږ شمېر زيات دی.
اجازه راکړه چې مونږ په خوګانو کې ورننوځو!
لاړ شئ!


ـ ؟
زه روغ شوم!
له دي ځايه ځئ! لاړ شئ!
ما هم د ځان سره یوسه!
نه! بېرته خپل کور ته لاړ شه او هغه څه چې خدای ستا دپاره کړي دي هغه ټولو ته ووايه.



تاسو باید پوه شئ چې زه خپله رضا نه بلکې د خپل پلار رضا پوره کوم چې زه یې رالیږلی یم.
عیسی به همیشه یو ګوښه ځای ته لاړ او هلته یې څښتن خدای ته دعا کوله ...
یوه شپه له دعا نه وروسته، عیسی خپل ۱۲ شاګردان د رسولانو په توګه غوره کوي. هغه دوی دوه دوه تنه ولیږل او ورته یې د پیریانو شړلو او شفا ورکولو اختیار هم ورکړ....
هغوی د عیسی شاګردان دي. پطروس او د هغه ورور اندریاس ....
یعقوب او د هغه ورور یوحنا ....
.... فیلیپوس او بارتولما ....


توما او متي چې پخوا مالیه ټولوونکی او
د رومي یرغلګرو په خدمت کې و ....
تدي او بل یعقوب ...
.... شمعون (مشهور په سرتېری)
او یهودا اسخریوتي ...
لاړ شئ! څوک چې تاسو قبول کړي، نو زه یې قبول کړی یم او څوک چې ما قبول کړي، نو هغه څوک یې قبول کړی دی چې زه یې رالېږلی یم.
رسولان په خوشحالۍ سره بیرته راستانه کېږي. وروسته، عیسی د دوی سره دښتې ته ځي ترڅو یوازې وي، مګر خلک د هغه له نیت څخه خبرېږي او د هغه پسې ځي.
ګورئ! فصل ډېر دی، خو مزدوران لږ دي. نو تاسو د فصل خاوند ته زاري وکړئ چې د خپلو حاصلاتو د راټولولو دپاره نور مزدوران راولېږي.


عیسی په تعلیم ورکولو او د ناروغانو په شفا ورکولو بوخت دی. ماښام رانژدې کېږي ...
فیلیپُسه! دومره ډوډۍ به له کوم ځای نه واخلو چې دا خلک یې وخوري؟ ولې تاسو هغو له څه نه ورکوئ؟
د سپینو زرو د دوه سوه سکو ډوډۍ به هم دوی ته بس نه شي.
دلته یو هلک دی. د هغه سره د اوربشو پنځه ډوډۍ او دوه ماهیان شته، خو دا د دومره خلکو دپاره هېڅ هم نه دي.
هغوی پنځوس پنځوس تنه کښېنوئ.
عیسی د خدای شکر ادا کوي ...
هغه ډوډۍ او ماهیان د خلکو په منځ کې وېشي!


زرګونه کسان مړېږي.
هغه باید هماغه وعده شوی مسیح وي.
مونږ هغه په زوره پاچا جوړوو!
وګورئ! د پاتې شویو ټوټو نه ۱۲ ټوکرۍ ډکې شوې.
اوس د دې وخت دی چې خلک رخصت کړئ او تاسو په کښتۍ کې د بحیرې بلې غاړې ته لاړ شئ. زه دلته پاتې کیږم او دعا کوم.


په هماغه شپه ...
مرسته! دا د مړي ارواح ده.
مه وېرېږئ.
ای استاذه! که چېرې دا ته يې، نو ماته امر وکړه چې زه هم د اوبو دپاسه درشم.
راشه
استاذه! ما وژغوره.
ای پطروسه! ولې دي شک وکړ؟


ځینې غواړي عیسی په زوره پاچا کړي. دوی هیله لري چې هغه به د روم یرغلګر له مینځه یوسي. د عیسی مخالفین مخ په ډیریدو دي. که څه هم هغه د خلکو سره مرسته کوي، خو مذهبي مشران فکر کوي چې هغه قانون ماتوي. دوی غواړي چې خلک د هغه پر ضد راوپاروي ترڅو د هغه له شره ځانونه خلاص کړي.
استاذه، ته کله دلته راورسېدلې؟
ایا د هغه ډوډۍ په خاطر ما لټوئ چې ومو خوړله؟
د فاني خوړو دپاره خواري مه کوئ بلکې د هغو خوړو دپاره خواري وکړئ چې د تلپاتې ژوندون پورې پاتې کیږي.
زه هغه ډوډۍ یم چې ژوندون ورکوي. هرڅوک چې دا ډوډۍ وخوري، هغه به همیشه ژوندی وي. کومه ډوډۍ چې زه به یې ورکوم، هغه زما خپل بدن دی.
دا سړی څنګه کولای شي چې خپل بدن مونږ ته راکړي چې ویې خورو؟
هغه پر مونږ ملنډې وهي!
راځئ چې ځو!
هغه مو غولوي!
ایا تاسو هم غواړئ چې ما پرېږدئ؟
ای استاذه، مونږ به چاته لاړ شو؟ تاسره د تلپاتې ژوندون خبرې دي.


عیسی ګواښل کیږي.
ځینې غواړي هغه سنګسار
کړي. هغه د خپلو پیروانو له
یوې ډلې سره جلیل پرېږدي چې
په هغو کې نارینه او ښځینه
دواړه شامل دي. هغه د
اسراییلو په نورو سیمو کې خپل
کار ته دوام ورکوي ...
جلیل
اورشلیم
اسراییل
وروسته بیا اورشلیم ته راځي ....
په لاره کې ...
خلک څه وایي چې زه څوک یم؟
هغوی وایي چې ته یو پیغمبر یې.
او تاسو؟
تاسو څه وایئ چې زه څوک یم؟
ته مسیح، د ژوندي خدای زوی یې.
هېڅاته ونه وایئ چې زه مسیح یم. مسیح باید اورشلیم ته لاړ شي. هلته به د یهودو د مشرانو له خوا کړاوونه ووینې او وبه وژل شي. خو په درېمه ورځ به بیا راژوندی شي.


د اورشلیم څخه بهر، هغه کسان چې په مرګ محکوم شوي په وحشیانه توګه په صلیب پورې تړل کیږي او د روم د ظالمانه قوانینو مطابق اعدام کیږي....
که څوک زما څخه پیروي کول غواړي، نو باید د خپل ځان څخه تېر شي، خپل صلیب دې راواخلي او ما پسې دې راځي.
هرڅوک چې وغواړي خپل ځان وساتي، نو هغه به یې له لاسه ورکړي او څوک چې زما په خاطر خپل ژوند له لاسه ورکړي نو هغه به رښتینی ژوند ترلاسه کړي.
په دې باید پوه شئ چې یوازېنی خدای چې شتون لري هغه زمونږ څښتن دی.
لومړی حکم دا دی د خپل خدای سره د زړه له کومې، په خپل ټول روح، عقل او قوت سره مینه کوه. دوهم دا چې د خپل ګاونډي سره د خپل ځان په شان مینه کوه.


په دې وخت کې، په اسراییلو کې داسې کلي شتون لري چې جذامیانو ته وقف شوي دي. په دې ناروغۍ باندې اخته کسانو ته اجازه نه ورکول کیږي چې د روغو خلکو سره ناسته ولاړه ولري.
هغه جذامیان چې په لاره روان دي باید په لوړ اواز نور خلک خبر کړي.
جذامي! جذامي!
ای عیسی! ای استاذه! پر مونږ ورحمېږه!


لاړ شئ او خپل ځانونه کاهنانو ته وښایئ.
ستاسو مقصد دا دی چې مونږ باید د روغ کیدو وروسته کاهن ته ځانونه وښایو؟
کاهن ته لاړ شو؟ یعنې څه؟
؟؟
!!
وګورئ زه روغ شوم!
مونږ روغ شولو! روغ! روغ!
هو!
د خدای شُکر دی! څښتن ښه دی!
ایا ټول لس واړه روغ نه شول؟ نو بیا هغه نور نهه تنه چېرته دي چې د خدای شکر ادا کړي؟
پاڅېږه او لاړ شه، خپل ایمان ته روغ کړې.


په اورشليم کې مذهبي مشران د
عيسی د جاسوسۍ لپاره سړي
ليږلي دي ترڅو د هغه خبرې
واوري. دوی غواړي د هغه په خبرو
کې داسې څه ومومي چې وروسته
هغه پرې تورن کړي ...
عيسی د هغو خلکو سره ناسته ولاړه کوي چې بد شهرت لري. لکه
فاحشې او ماليه ټولوونکي چې د روميانو لپاره کار کوي ...
مسيح راغلی دی چې ورک شوي
ولټوي او هغوی وژغوري.
مسيح د سبت پر ورځ
ناروغانو ته شفا ورکوي.
روغ شه!
او په ځانګړې توګه مسيح
ماشومان په مينې سره مني.
ماشومان پرېږدئ چې ماته
راشي، ځکه چې د خدای پاچاهي
د همداسې خلکو ده.


عیسی یو پیغام ترلاسه کوي او هغه ته بیت عنیا ته د راتګ بلنه ورکول کېږي. دا کلی اورشلیم ته نژدې پروت دی او د ایلعازر په نوم یو سړی هلته اوسیږي. هغه ناروغه دی او د هغه دوه خویندې چې مارتا او مریم نومیږي د عیسی سره ملګرې دي. کله چې عیسی د بیت عنیا کلي ته داخلېږي، نو هغه ته خبر ورکول کېږي چې ایلعازر څلور ورځې وړاندې مړ شوی دی.
استاذه!
که ته دلته وای، نو زما ورور به نه وای مړ شوی.
مرتا! ستا ورور به بېرته راژوندی شي.
زه پوهېږم چې هغه به د قیامت په ورځ راژوندی شي.
زه قیامت او ژوندون یم. که څوک په ما باندې ایمان راوړي که هغه مړ هم شي، خو بیا به هم ژوندی وي، ایا په دې باندې باور کوې، مرتا؟
هو، استاذه! زه په دې ایمان لرم چې ته مسیح د خدای زوی یې، چې باید نړۍ ته راشي.
هغه تاسو چېرته ښخ کړی دی؟
ښاغلیه، راشه او ویې ګوره.


وګورئ هغه
ورباندې څومره
ګران ؤ.
ایا هغه دا نه شو کولای
چې ایلعازر یې د مرګ
نه ژغورلی وای؟
دلته دود دا دی چې مړی په کفن کې تاو کیږي او کاڼو
څخه په کیندل شویو قبرونو کې ایښودل کیږي.
تیږه لېرې کړئ.
اوس خو د هغه د مرګ څلور ورځې
شوې دي او بوی به یې کړی وي.
ته به د خدای جلال ووینې.
پلاره! زه دا د دې خلکو په خاطر چې دلته
ولاړ دي وایم، ترڅو هغوی په دې باندې
ایمان راوړي چې زه تا رالېږلی یم.
**ایلعازره،**
**راووځه.**
کفن ترې لېرې کړئ او
پرېږدئ چې لاړ شي.


هغه کسان چې په اورشلیم کې واکمنان دي، هغوی تر ټولو زیات د عیسی او د هغه د پیروانو څخه اندیښنه لري ...
دا سړی ډېرې معجزې ښکاره کوي.
که مونږ هغه همداسې پرېږدو، نو رومیان به دلته خپل سرتېري واستوي.
هغوی به د خدای کور وران کړي او مونږ ټول به له منځه یوسي.
نو فکر وکړئ. پرېږدئ چې یو کس د ټول قوم په خاطر مړ شي، نه دا چې ټول قوم تباه شي.
نو په دې دلیل عیسی باید مړ شي!
یو سړی باید د ټول ولس دپاره مړ شي! له همدې امله مذهبي مشران د عیسی د صلیب کولو لپاره د فرصت په لټه کې دي. هغه اورشلیم ته په لاره دی. دا خورا اسانه ده. دوی غواړي چې رومیان هغه ته د مرګ سزا ورکړي ...


په همدې شپبه په بیتِ عنیاه
کې یوه مېلمستیاروانه ده.
مریمې!
دا عطر ولې بېځایه
مصرف شول؟
ښه دا وه چې هغه
خرڅ شوی وی او
پیسې یې غریبانو ته
ورکړل شوي وی!
یهودا! د هغې
سره کار مه لره،
هغې زه د ښخولو
دپاره تیار کړم.


د فسحې اختر کرار کرار رانژدې کېږي، د ټول
هیواد نه خلک په اورشیلم کې راټولېږي.


یهودي مشران د عیسی د نیولو هڅه کوي. خو سره له
دې هم، عیسی اورشلیم ته خپله لاره نه بدلوي.



خلک په خوشحالیو او چیغو سره د هغه هرکلی کوي.
ژوندی دې وي!
مبارک دی!
مبارک دی هغه څوک چې د څښتن په نوم راځي.
د اسراییلو پاچا!
ای اورشلیمه! کاشکې نن تاته هم د سولې او سلامتی لار معلومه وای. خو نه، اوس دا لاره ستا د نظر څخه پټه ده.
ټوله نړۍ هغه پسې روانه ده.
مونږ هیڅ نه شو کولای.


د اورشليم عبادتخانه د
يهودو د دين مرکز دی.
د فسحې په اخترونو کې
هلته وري قرباني کېږي.
د دې وريو يوه برخه د خدای
سره د خلکو د بخلاينې په
مقصد سوځول کېږي؟
مګر کوم قرباني ورى کولای شي
خلک د ګناه، شرم او د قضاوت له
ويرې څخه خلاص کړي؟
د عبادتخانې په انګړ کې سوداګر او
صرافان په خپلو راکړو ورکړو بوخت دي.
ناڅاپه عيسی د
خدای کورته ننوځي.



د خدای کور به د دعا کور
وي. خو تاسو ورڅخه د غلو
پټنځای جوړ کړی دی.
مونږ باید د هغه څخه د
خلاصون لاره ولټوو.
هغه خطرناکه دی! خلک
یې خبرو ته غوږ نیسي.


مونږ باید هغه په یو چل سره ونیسو او وروسته یې ووژنو.
خو دا کار د اختر پر مهال نه شي کېدای. مونږ نه غواړو شورماشور جوړ شي.
دا یهودا اسکریوتی دی، د هغه یو شاګرد دی!
تاسو به ما ته څومره راکړئ چې عیسی تاسو ته وسپارم؟
زه به عیسی تاسو ته تسلیم کړم!
مونږ به د سپینو زرو دېرش سکې درکړو چې دا د یو غلام بیه ده.


د فسحې د اختر څخه مخکې ورځو کې، عیسی هره ورځ عبادتخانې ته ځي ترڅو خلکو ته تعلیم ورکړي. مذهبي مشران غواړي د هغه ژوند تر فشار لاندې راولي. هغه له پطروس او یوحنا څخه غواړي چې د فسحې ډوډۍ تیاره کړي ...
همدا نن شپه به کار پای ته ورسوم!
په دې شپه، عیسی د خپلو دولسو شاګردانو سره ښار ته ځي ترڅو سره یوځای د فسحې ډوډۍ وخوري.


زړه مې ډېر غوښتل چې د کړاوونو د زغملو څخه مخکې ستاسو سره د فسحې ډوډۍ وخورم.
واکمنان په زوره په خلکو باداري کوي. خو تاسو داسې مه اوسئ.
ستاسو مشر دې د خدمتګار په شان وي.
زه ستاسو خدمتګار يم.


ای څښتنه، ایا ته غواړې چې زما پښې ووینځې؟ نه! هېڅکله.
که زه تا ونه وینځم، نو ته به نور زما سره برخه ونه لرې.
بیا نو څښتنه، یوازې پښې مې نه بلکې لاسونه او سر مې هم ووینځه.
چا چې لمبلي وي نو هغه وینځلو ته اړتیا نه لري، یوازې پښې یې باید ووینځل شي.
که چېرې ما چې ستاسو بادار او استاذ یم ستاسو پښې ووینځلې، نو تاسو هم باید د یو بل پښې ووینځئ.
په تاسو کې به یو زما سره خیانت کوي.
امکان نه لري!
ایا هغه زه یم؟
یهودا! هرڅه چې کوې زر یې وکړه.



زما په یاد
همداسې کوئ.
دا ډوډۍ زما بدن دی چې
ستاسو دپاره ورکول کیږي.
دا پیاله واخلئ ځکه دا د خدای او انسانانو
ترمنځ نوی لوظ دی چې زما د وینې په
وسیله جوړیږي چې ستاسو دپاره توییږي.
زه تاسو ته نوی حکم درکوم: د یو
بل سره مینه کوئ، لکه څنګه چې
ما ستاسو سره کړې ده، نو تاسو هم
د یو بل سره مینه وکړئ.
که یو د بل سره مینه ولرئ، نو بیا به ټول په
دې پوه شي چې تاسو زما شاګردان یئ.
زه چمتو یم چې هرچیرې ځې، له تا سره
لاړ شم او ستا په خاطر ځان قربان کړم.
پطروسه! د چرګ د اذان نه مخکې به
درې ځلې ووایې چې ته ما نه پېژنې.


شپه راځی او عیسی د خپلو شاګردانو سره ښار
پرېږدي او ځي. یهودا د هغوی سره نشته.
زه به تاسو پرېږدم، مګر پلار به
تاسو ته روح القدس واستوي.
هغه ستاسو سره مرسته کوي او
ستاسو ملاتړی به وي.
تاسو پوهېږئ چې
زه چېرته ځم.
زه لار، حق او ژوندون یم.
هېڅوک نه شی کولای زما د
وسیلې نه پرته پلار ته ورشي.
ترڅو پورې چې زه هلته
ځم او دعا کوم، تاسو
دلته کښېنئ.
زما پلاره، که چېرې کېدای
شي، نو دا د مصیبت پیاله
زما څخه لیرې کړه!
خو زما رضا
نه بلکې ستا
رضا دې پوره
شي.


تاسو لا هم ویده یئ؟ پاڅېږئ،
زما خائن رارسېدلی دی.
څوک چې زه ښکلوم نو دا هماغه سړی دی، هغه راونیسئ.
سلام ای استاذه!
ای یهودا! ایا په ښکلولو سره مسیح تسلیموې؟
استاذه! ایا په تورو یې ووهو؟
بس دی.
سرتېري عیسی ګرفتاروي او لاس تړلی یې وړي. د هغه شاګردان ټول تېښته کوي.


هغوی عيسى د لوی کاهن کور ته بوته چې د يهودي مشرانو رئيس ؤ. پطروس او يوحنا د لېرې نه ورپسې روان وؤ
پطروس حوېلۍ ته د ننه کېږي.
ايا ته هم له عيسى سره نه وې؟
اى ښځې! زه هغه نه پېژنم.
ته هم د هغو له ډلې څخه يې.
اى وروره! زه نه يم.
البته ته هم د عيسى سره وې. ځکه ته جليلى يې!
اى وروره! زه نه پوهېږم چې ته څه وايې.


قو قو قو
قوووو
عیسی د پطروس سره د سترګو د
اړیکې په لټه کې دی ...
اوس له غیبو ووایه
چې ته چا ووهلې؟
سهار وختي عیسی د یهودي
مشرانو شورا ته بیایي.
ایا ته د خدای زوی یې؟
تاسو خپله وایئ
چې زه یم.
هغه کفر وايي. هغه د مرګ
لایق دی. هغه د رومیانو
محکمې ته بوځئ.


عیسی د پیلاتوس په نوم د رومي والي مخې ته راوړل کېږي. یهودي مشران خلک د عیسی پر ضد راپاروي او پر هغه باندې د دروغو تورونه لګوي او بې عزتي او سپکاوی یې کوي.
اورې؟ هغوی په تا باندې څومره تورونه لګوي.
ستا ګناه څه ده؟
زه دې دپاره راغلی یم چې د حقیقت په هکله شاهدي ورکړم.
نو بیا حقیقت څه دی؟
زه په ده کې کوم جرم نه وینم. خو له دې کبله چې د فسحې اختر دی نو زه یو بندي خلاصوم. ایا تاسو غواړئ چې عیسی خلاص کړم که باراباس؟


باراباس!
باراباس!
نو بیا د عیسی سره څه وکړم؟
په صلیب باندې یې ځوړند کړه!
هغه خاْنته پاچا وایي!
که دا سړی ازاد کړې نو بیا د امپراتور دوست نه یې.
ته د هغه پرځای ازاد یې.
باراباس د عیسی په ځای خلاصېږي. هغه د قتل په تور زندان ته اچول شوی ؤ
۳۷، ۳۸، ۳۹ ...
زه د دې سړي د مرګ مسوول نه یم.
ژوندی دې وي د یهودیانو پاچا.


وګورئ، هغه سړی دلته دی.
هغه په صلیب باندې ځوړند کړه!
هغه په صلیب باندې ځوړند کړه!
هغه په صلیب باندې ځوړند کړه!
نو پیلاطوس د دوی د غوښتنې سره سم د مرګ سزا لاسلیک کړه. په صلیب مرګ یو سخت عذاب دی. عیسی مجبور شو چې خپل صلیب په خپلو اوږو پورته کړي او د اورشلیم د خلکو په مینځ کې د اعدام ځای ته لاړ شي.
د اعدام ځای د ښار څخه بهر پروت دی چې د سر د کوپړۍ یا جلجتا په نوم یادېږي ....
سرتېري عیسی په صلیب باندې میخ کوي!



په دې موقع یهودا د خپل کار څخه پښېمانه کېږي.
ما ګناه کړې ده!
د يو بېګناه سړي سره مې خیانت وکړ!
په مونږ یې څه؟
عیسی یې د دوو مجرمانو ترمنځ په صلیب باندې ځوړند کړ.
ای پلاره! دوی وبخښه، ځکه دوی نه پوهیږي چې څه کوي.


د هغه د سر دپاسه يې يوه تخته ځوړنده کړې وه چې پرې په دريو ژبو باندې ليکل شوي وو: «دا د يهوديانو پاچا دی.»
عيسی د درد ضد شرابو د څښلو څخه ډډه وکړه.
عسکرو د عيسی په کاليو باندې پچه واچوله.
هغه نور خلک ژغورل، خو اوس خپل ځان نه شي ژغورلی.
که ته په رښتيا د خدای زوی يې، نو خپل ځان وژغوره او د صليب څخه راښکته شه.
خپل ځان او مونږ وژغوره!
له خدايه نه ويرېږې؟ په تا باندې هم د هغه په شان د مرګ حکم شوی دی. مونږ سره انصاف شوی دی، خو دې سړي کوم غلط کار نه دی کړی.
ای عيسی! کله چې خپلې پاچاهۍ ته ورسېدې، نو ما هم در په ياد کړه.
په يقين سره زه تاته وايم چې ته به نن زما سره په جنت فردوس کې اوسې.


د غرمې وخت و چې لمر ورک شو او ټوله سيمه کې تياره خپره شوه
صليب ته نژدې عيسی خپله مور وليدله چې د يوحنا په خوا کې ولاړه وه،
له دې نه وروسته تاسو مور او زوی يئ.
ای زما خدايه، ای زما خدايه، زه دې ولې پرېښودم؟
زه تږی يم.
ای پلاره! زه خپل روح تاته سپارم.
پوره ... شو!


عیسی د ماسپښین په دریو بجو ساه ورکړه. یو
عسکر عیسی په نېزه باندې په بغل کې وواهه او
سمدلاسه یې د بدن نه وینې او اوبه راوبهېدلې.
د خدای په کلام کې راغلي دي چې،
هغه سړی د هغه پسه په شان ؤ چې
حلالېدلو ته وړل کېږي.
هغه زمونږ گناهونه پر اوږو
واخیستل او صلیب ته یې
یووړل. هغه اوس مړ شو.
ایا هغه هماغه مسیح و
چې مونږ ورته انتظار
ویستلو، که نه؟
راځئ چې لاړ شو او
غوښتنه وکړو چې د هغه
د ښخولو اجازه راکړي.
د رامه یوسف او نیکودیموس د عیسی جسد له
صلیب څخه ښکته کړ. هغوی هغه په یو سپین
کفن کې تاو کړ او په هغه قبر کې یې کېښود چې
یو گټ کې نوی کیندل شوی ؤ.


د فسحې لپاره د ارام کولو د ورځې وروسته، ځينې ميرمنې د قبر ليدو دپاره ځي ...
د قبر د خولې تيږه رغړول شوې ده!
تاسو ولې ژوندي په مړو کې لټوئ؟ هغه راژوندی شوی دی. نو بيا زر لاړې شئ او د هغه شاگردان خبر کړئ.
کله چې پطروس او يوحنا له دې پېښې نه خبرېږي نو په منډه د قبر خوا ته روانېږي.
څه شوي دي؟
قبر تش دی!


په باغ کې ...
ای خورې، ته ولې ژاړې؟ څوک لټوې؟
ښاغلیه! تا د هغه جسد وړی دی؟
مریمې!
استاذه!
ماته لاس مه راوړه، زما ورونو ته ورشه او هغوی ته ووایه چې زه اوس خپل پلار ته چې ستاسو پلار هم دې او خپل خدای ته چې ستاسو خدای هم دی، پورته ورځم.




په هماغه ورځ د عیسی دوه تنه غمځپلي پیروان، له یو
لاروي سره د عیسی د اعدام په هکله خبرې اترې کوي.
ایا تاسو د پیغمبرانو د ویناوو په منلو
کې زړه نازړه یئ؟ لا پخوا نه دا لیکل
شوي وو چې مسیح باید کړاوونه ووینی
ترڅو خپل جلال ته ورسیږي.
هغوی خوراک ته کښېناستل، خو ناڅاپه د
هغوی مېلمه د نظر څخه پناه شو...
دا خو په خپله
عیسی و.
هغوی سمدلاسه اورشلیم ته روان شول او د
نورو یوولسو رسولانو څنګ ته لاړل.
مونږ څښتن خدای ولید!
همدا شان مریم
او پطروس هم!
ناڅاپه ...
په تاسو دې
سلامتي وي.
تاسو ولې دومره شک کوئ؟
زما لاسونو او پښو ته وګورئ او
وګورئ چې دا زه خپله یم.
ای زما استاذه
او زما خدایه.



عیسی د څلوېښتو ورځو په موده کې
څو څو ځلې خپلو شاګردانو ته ښکاره
شو. بیا هغه یوځل د پنځه سوو نه
زیاتو نورو شاګردانو ته ښکاره شو. د
هغه شاګردان بېرته جلیل ته
راستنېږي. یوه ورځ چې هغوی
ماهیان نیسي ...
ای ملګرو، کوم څه مو نیولي دي؟
نه! ومو نشو کړای.
د کښتۍ ښي خواته جال ورواچوئ!
څومره درونډ دی!
دا خو زمونږ استاذ دی!
استاذه!
راشئ د سهار ډوډۍ وخورئ.


عیسی درې ځله له پطروس نه دا پوښتنه کوي.
پطروسه! ته د دې نورو نه زما سره زیاته مینه کوې؟
استاذه، ته پوهېږې چې په ما باندې ګران یې.
زما په پسونو باندې پام کوه.
د ځمکې او اسمان ټول واک او اختیار ماته راکړل شوی دی. نو لاړ شئ او ټول قومونه زما پیروان کړئ او هغوی ته د پلار او زوی او روح القدس په نوم د تعمید غسل ورکړئ. هغوی ته دا تعلیم ورکړئ چې په هغو ټولو حکمونو باندې عمل وکړي چې تاسو ته مې درکړي دي.
ما پسې راځه.
او په دې باور ولرئ چې زه به تل او د نړۍ تر پایه ستاسو سره مل یم.
وروسته، عیسی خپل پیروان پرېږدي او اسمان ته ځي. مګر هغه دا هم ویلي دي چې هغه به یوه ورځ له اسمان څخه بېرته راستون شي ترڅو د نړۍ قضاوت وکړي.

د عیسی شاګردان په اورشلیم کې انتظار کوي او دعا کوي چې د روح القدس څخه ډک شي. د پنځوسو ورځو وروسته، د پنتیکاست په ورځ، روح القدس په دوی باندې نازلیږي. هماغه روح چې په عیسی کې ؤ اوس په دوی او په هغو کسانو کې ژوند کوي چې په هغه ایمان لري. د هغه شاګردان د هغه پیاوړي شاهدان دي. زیات شمېر خلک د عیسی په اړه اوري …











اوس په ټوله نړۍ کې ډېر خلک راټولیږي ترڅو دعا وکړي او سپېڅلی کتاب په ګډه ولولي. دوی د خدای په رحمت کې ژوند کوي. دوی د هغه فضل تجربه کوي. دوی یو له بل سره مینه لري او د محتاجانو سره مرسته کوي. دوی حتی د خپلو دښمنانو سره مینه کوي. دوی په منظم ډول د څښتن غوره ماښامي په پروګرامونو کې ګډون کوي او په دې توګه د عیسی یاد تازه کوي. دوی د خدای مینه چې د دوی زړونه یې ډک کړي دي خپلو شاوخوا خلکو ته ښکاره کوي.


عیسی د انسان دپاره د خدای نقشه سرته ورسوله.
عیسی تاسو سره مینه لري. نو د هغه شکر ادا کړئ او عبادت يې وکړئ!
خدای د نړۍ سره داسې مینه وکړه چې خپل یوازېنی زوی يې ورکړ، ترڅو هرڅوک چې په هغه باندې ایمان راوړي نو هلاک به نه شي، بلکې تلپاتې ژوندون به ولري.

## سپېڅلی کتاب

د عیسی کیسه په سپېڅلي کتاب کې راغلې ده. سپېڅلی کتاب په نړۍ کې یواځینی کتاب دی چې ډېر لوستل شوی دی او لاهم لوستل کیږي. سپېڅلي کتاب د کتابونو ټولګه ده. د دې ټولو کتابونو لیکل ۱۵۰۰ کاله وخت نیولی دی. سپېڅلي کتاب شاوخوا ۱۹۰۰ کاله دمخه بشپړ شوی دی. دا کتاب مختلفې کیسې لري چې څنګه خدای د خلکو په ژوند کې ښکېل دی. د عیسی کیسه په ښکاره ډول ښایې چې خدای څوک دی.

## د عیسی مسیح تاریخ



سپېڅلی کتاب ټول ۴ کتابونه لري چې په هغو کې د عیسی مسیح ژوند بیان شوی دی. دا کتابونه د خپلو لیکوالانو په نوم نومول شوي دي. دا لیکوالان ټول د عیسی په زمانه کې ژوند کاوه.

۱. **متی** - هغه د عیسی یو شاګرد و. هغه د مالیې ټولونکي په توګه کار کاوه. هغه په ځانګړي ډول تشریح کوي چې عیسی څنګه د اسراییلو خلکو (یهودانو) سره چلند کاوه.

۲. **مرقوس** - کله چې عیسی خپل خدمت پیل کړ، هغه لا یو کوچنی هلک ؤ. هغه یو څه د هغه معجزو په اړه لیکلي دي کوم چې عیسی ترسره کړل.

۳. **لوقا** - هغه یو ډاکټر و. هغه د عیسی سره شخصي پېژندګلوي نه درلوده. لوقا تشریح کوي چې عیسی د خلکو سره څرنګه کړه وړه درلودل.

۴. **یوحنا** - هغه هم د عیسی د پیروانو څخه و. هغه په ځانګړې توګه ښایې چې عیسی څوک دی. عیسی خدای دی چې انسان شو ترڅو خلک د خپلو ګناهونو خلاص کړي.


## د عیسی زېږون

د عیسی مور، مریمه، لا واده شوې نه وه چې عیسی د هغې په ګېډه کې پیدا شو. هغه تر هغې پورې چې عیسی وزېږېد، پېغله نجلۍ وه. خو بیا هم، خدای داسې بندوبست جوړ کړ ترڅو عیسی پیدا شي. دا معجزه په هغو کتابونو کې چې د عیسی نه وړاندې لیکل شوي وو، اعلان شوې وه. عیسی د کوم اتل یا په کوم ځانګړي طریقې سره نه و زیږیدلی. هغه په یو پنډغالي کې وزېږېدو ځکه چې بل کوم ځای پاتې شوی نه ؤ.

## د عیسی معجزې

عیسی ډیری معجزې ترسره کړې. سپېڅلی کتاب د ۴۰ څخه زیاتو معجزه ایزه شفاګانو ته اشاره کوي. په دې معجزو سره، عیسی د څښتن خدای ځواک او مینه ښکاره کړه او دا چې هغه غوښتل د خلکو سره مرسته وکړي او هغوی خوشحاله کړي.







# د عیسی مړینه او
# بیا ژوندي کېدل

***عیسی ولې مړ شو؟ په سپېڅلي کتاب کې وضاحت ورکړل شوی دی.***

ټول خلک کله نا کله خطا کارونه کوي. یعنی هغه کارونه کوي چې خدای یې نه خوښوي او هغه پرې په قهر یا ناراضه کېږي. دغه کارونو ته ګناه ویل کیږي. ګناه کولای شي خلک د خدای سره د ملګرتیا څخه لرې وساتي.
له همدې امله عیسی راغی. عیسی د خپلې آزادې ارادې له مخې زمونږ د ګناهونو سزا په خپله غاړه واخیسته. دا سزا مرګ وه. له دې امله چې عیسی زمونږ په خاطر مړ شو، نو مونږ کولای شو بیا د خدای سره ملګري شو. خو مونږ باید د هغه غلطیو له امله بخښنه وغواړو چې کړې مو دي.
عیسی له مړو څخه راپورته شو. څښتن خدای هغه بیا ژوندی کړ. په دې کار سره خدای وښوده چې هغه د مرګ څخه ډېر ځواکمن دی.
عیسی اوس د خدای سره ژوند کوي. له دې امله چې هغه لا ژوندی دی، نو کولای شي تل زمونږ ملګری وي. هغه غواړي له مونږ سره مرسته وکړي چې داسې ژوند وکړو چې خدای خوشحاله کوي.

## دعا

*که تاسو د خپلو غلطو کارونو لپاره بخښنه غواړئ او غواړئ چې د څښتن خدای سره ملګري شئ، نو تاسو کولای شئ دا دعا وکړئ:*

*ګرانه خدایه، ته ما سره مینه لرې.*
*تا خپل یوازینی زوی، عیسی راکړ.*
*هغه د ټولو هغو ګناهونو دپاره چې ما ترسره کړي دي په صلیب باندې مړ شو.*
*مهرباني وکړه د هغو ګناهونو په خاطر مې وبخښه چې ما ترسره کړي دي. زه د هغو څخه پښېمانه یم.*
*شکر، چې عیسی زما په څنګ کې دی.*
*زه تل غواړم چې تا سره تړاو ولرم.*
*ایا ته به زما سره مرسته وکړې چې هغه ډول ژوند وکړم چې ته یې له مانه غواړې؟*
*ایا ته به تل زما سره نژدې پاتې شې؟*
*مننه چې ته زما دعاګانې قبلوې.*
*ته تل هغه څه کوې چې تا یې ژمنه کړې ده!*

# عیسی او تاسو

د عیسی داستان خلاص پای لري. عیسی د ډېرو خلکو ملګری شو، هم پخوانۍ زمانه کې او هم اوسنۍ زمانه کې. نړۍ بدله شوې ده. اوس ډېری خلک په خرو یا اسونو باندې سفرونه نکوي بلکې په موټرو او الوتکو کې سفرونه کوي. مګر دا د عیسی لپاره هیڅ توپیر نلري. هغه کولای شي مونږ ته هغومره نژدې وي لکه څنګه چې هغه د اسراییلو خلکو ته نژدې و.
هغه ممکن په سترګو ونه لیدل شي، مګر هغه یو حقیقت دی. هغه غواړي نن ورځ ستاسو ملګری واوسي. تاسو کولای شئ هغه ته غوږ ونیسئ او تاسو ښایي د هغه سره مینه وکړئ.

ایا تاسو غواړئ د عیسی په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ او د هغه سره ژوند وکړئ؟ نو تاسو کولای شئ لاندې کارونه ترسره کړئ:

**۱. د ځان لپاره د سپېڅلي کتاب لوستل پیل کړئ**
(د مثال په توګه د هغې برخې څخه لوستل پیل کړئ چې د لوقا له خوا لیکل شوې ده).

**۲. په دعا کولو پیل وکړئ**
(د خدای سره خبرې کول او هغه ته غوږ نیول - تاسو اړتیا نلرئ ځانګړي کلمې وکاروئ).

**۳. د نورو خلکو سره د عیسی او سپېڅلي کتاب په اړه خبرې** وکړئ. عیسی غواړي د هغه پیروان له یوبل سره وګوري او یو بل وهڅوي ترڅو دوی د هغه په اړه ډېر څه زده کړي.




*«متن او انځورونه: ویلم دی وینک.»*
*د چاپ حق © Stichting Wereldtaal 1993، روتردام، هالند. په هالندي ژبه د Jezus Messias تر عنوان لاندې خپور شوی دی.*
*د افغان پښتو نسخه © Pashto (Afghanistan) 2025*
*د دیجیتل چاپ د خپرولو حق د Creative Commons BY-SA جواز تر شرایطو لاندې*
*د ژباړې، تکثیر او تطبیق ټول حقونه د ټولو هیوادونو لپاره خوندي دي.*
*برښنالیک: jmpbk.app@gmail.com*
*https://jesusmessiahcomicmedia.com/en/afghanistan*

*د پامیر د خدمتونو لخوا خپور شوی - www.Hope4Afghans.com/fa*
*د سپېڅلي کتاب بشپړ متن او نورو لپاره دا لاندې سایت وګورئ:*
*www.AfghanBibles.org/pus*
*(Add QR code)*

عیسی مسیح: دا د عیسی مسیح ریښتینې کیسه ده. هغه شاوخوا ۲۰۰۰ کاله وړاندې په اسراییلو کې ژوند کاوه.
هرچا به چې ورسره لیدل، نو ورته حیران به شو. هیچا هیڅکله هم هغه څه نه دي کړي چې هغه کړي دي.
هیچا هیڅکله هغه څه ندي ویلي چې هغه ویلي دي. چیرې چې عیسی و، نو هلته به معجزې پېښېدلې. هغه
ټولو هغو خلکو ته چې د هغه خبرې اوري او ورته پام کوي، خوښي او خوشحالي راولي. مګر ناڅاپه دا هرڅه پای
ته ورسیدل. د هغه دښمنانو هغه په صلیب باندې ځوړند کړ. خو دا پای نه و. تاسو په خپله ولولئ چې دا هرڅه
څنګه پیښ شول او وګورئ چې د عیسی مسیح کیسه څنګه دوام لري!



ژبه: افغان پښتو

*Language: Pashto (Afghanistan)*

*ISBN: 978-94-93321-66-3*